دافغانستان اسلامی جمهوریت
د ټـــاکنو خپلواک کمیسیون

جمهوری اسلامی افغـانستان
کمیسیون مستقل انتخـــابات

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# د ټا کنو د خپلواک کميسيون پريکړه

د پريکړې شميره: ۲۴ـ ۱۳۸۹

موضوع:
- د رأی ورکونکو د نوم ليکنې د مرکزونو زياتول او د ګرځنده ډلو ليږل
- د هيواد ولايتونو ته د ولسي جرګې د څوکيو ځانګړي کول
- د ډله ييزو رسنيو له خوا د روان کال د وږي د ۲۷ نيټي د ولسي جرګې د ټاکنو د بهير د پوښښ لپاره د منصفانه او بې پرې راپور ورکونې د کړندود د ۶ مادې تعديل
- د باور ليک ورکول.

مرجع: د ټاکنو د خپلواک کميسيون د دارالانشاء رياست

وخت، نيټه او د ملاقات ځای: د ۱۳۸۹ هـ ل کال د چنګاښ ۲۳، چې د ۲۰۱۰ زيږديز کال د جولای له ۱۴ نېټې سره سمون لري.
د ټاکنو خپلواک کميسيون مرکزي دفتر.

حاضرغړي : ښاغلی فضل احمد معنوي ، ښاغلی ستر جنرال محمد ايوب اصيل ، آغلې مومنه ياري ، آغلې مستوره ستانيکزی، ، ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني، ښاغلی قاضي سليمان حامد او ښاغلی عبدالخالق حسيني پشه ئي .

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون د ۱۵۶ مادې او د ټاکنو د قانون د (۲۰، ۵۰، او ۶۶)مادو د سپارل شوو واکونو پربنسټ،

**د غونډې په اجندا کې د شاملو موضوعګانو په اړه د ټاکنو خپلواک کميسيون لاندې پريکړې وکړې:**

1. ځرنګه چې د ۱۳۸۸ کال د ولسمشرۍ او ولايتی شوراګانو د ټاکنو لپاره د رأی ورکونکو د نوم ثبتوني پروسه په ټول هيواد کې په پراخه کچه ترسره شويده، او د روان کال د ولسي جرګې د ټاکنو د عملياتي پلان پر بنسټ او د تخنيکي او بوديجوي امکاناتو د نشتوالي له امله د رأی ورکونکو د نوم ثبتوني د مرکزونو ډيرول او د ګرځنده ډلو رامنځته کول امکان نه لري.
2. د هيواد د نفوسو د دقيق شمير د نشتوالي له امله ولايتونو ته د ولسي جرګې د څوکيو شمير د ۱۳۸۴ کال د ولسي جرګو د ټاکنو شمير د اجرا وړ دی
3. د ډله ييزو رسنيو له خوا د ۱۳۸۹ کال د ولسي جرګې د ټاکنو د بهير د پوښښ لپاره د منصفانه او بې پرې راپور ورکونې د کړندود د ۶ مادې تعديل چې د دې پريکړه ليک سره مل دی تاييد او تصويب دی.
4. د وړاندې کړل شوو سندونو په پام کې نيولو سره لاندنيو بنسټونو ته دې باورليکونه ورکړل شي.
   a. راه فردا تلويزيون
   b. د افغانستان لپاره د بي بي سي تعليمي پروژه
   c. حزب وحدت اسلامي افغانستان
   d. د رويترز خبري اژانس
   e. جمهوريت غوښتونکو ګوند
   f. امروز تلويزيون
   g. دعوت راديو تلويزيون